ډاکټر خسرو سنګروال ۲۰۱۲/۰۲/۰۹

# د سولې خبرې اترې او د پاکستان سودا

لکه چې خبرونو کې اورېدل کيږي دا اوس د افغان حکومت او وسله وال اپوزيسيون تر منځ يې د سولې د خبرو اترو درې موازي بهيرونه روان دي.
د ښکيلو کورنيو او باندنيو اړخونو له وروستيو رسنيزو دريځونو نه جوته ده چې دا بهيرونه هر يو ځانته پلويان او پانګونکي لري، او د دې پانګونکو موخې نه يوازې سره توپير لري بلکې په ډېرو ځايونو کې سره په څرګند ټکر کې هم دي.
لومړی او په ښکاره تر ټولو پياوړی بهير په قطر کې د نړيوالې ټولنې اود طالبانو اسلامي خوځښت تر منځ د خبرو اترو هڅې دي چې داسې ګڼل کيږي تر ټولو ډېره پانګه پرې لګول شوې ده.
د دې بهير په ترڅ کې لا وختي د خليج په دې واړه خو شتمن هيواد کې د طالبانو ډيپلوماتيک ځای ځايګی په ګوته شوی دی او له ګوانتانامو نه يې د چلولو لپاره پخواني لوړپوړي طالبان هم ورخوشې شوي دي. د قطر بهير چې د متحده ايالاتو په ځانګړی پاملرنه پر مخ بيول کيږي، لا تر اوسه يې څو ناستې هم کړي دي.
د افغانستان حکومت ډېرې داسې نښې څرګندې کړي دي چې پر بنسټ يې ځان د قطر له بهير نه پردی ښودلی دی.
افغان حکومت له همدې تاوه په سعودي عربو کې له خپلې ډډې نه طالبانو سره د خبرو کولو د هڅو خبرونه لويديځو رسنيو ته درز کړي دي. دی سره افغان حکومت په ښکاره لويديځوالو ته د قطر د خبرو په اړه د خپلې انديښنې د څرګندولو نابريالۍ هڅه کړې ده. نا بريالۍ په دې چې د طالبانو ځينې سرچينې د سعودي خبرو کې د ونډې لرلو نه ټپ منکر شوي دي.
د افغانستان حکومت د سعودي بهير آرې پانګونکی بلل کيږي.
د سولې د خبرو اترو دريم بهير د کابل خبرې دي. د کابل بهير ځکه خوار او کم اغيزی بلل کيږي چې د وسله وال اپوزيسيون آرې لوبغاړي، طالبان، پکې ونده نه لري، او د خبرو سيال لورې د افغانستان اسلامي ګوند دی. د نوموړي ګوند مرکچي پلاوی چې د افغان حکومت، متحده ايالاتو او ناټو له لوړ پوړو چارواکو سره يې کتلي دي، د دې خبرواترو د لومړي پړاو له پايلو نه نهيلي نه ده ښودلې.
داسې ښکاري چې د کابل د بهير پانګونکی د پاکستان دولت دی. پاکستان چې په دې وروستيو کې د افغانستان د سولې له بهير نه ځان ګوښې ليدلی و، دکابل د خبرواترو پيلولو سره يې هڅه کړې ده چې ځان د سولې په بهير کې ګډ ښکاره کړي.
د پاکستان دولت په سلاله پاټک باندې د ناټو د تير کال د خونړي هوايي بريد نه وروسته چې د متحده ايالاتو حکومت سره کومه ديپلوماتيکه مرورتيا پيل کړې ده، اوس ورته ډېره اوږده شوې ده. پاکستان په دې مرورتيا کې تر اوسه پورې په ښکاره ډېر تاوان کړی دی. نه يوازې دا چې په وزيرستانونو باندې د بې پيلوټه الوتکو بريدونه ونه دريدل، پاکستان د ناټو د اکمالاتي لاريو د درندو ماليانو له ترلاسه کولو هم تر ډېرې بې برخې پاتې شو.
له دې مرورتيا نه پاکستان تر ټولو لوی زيان دا وليد چې د افغانستان د سولې خبرو کې يې ارزښت کم شو. اوس يو ځل بيا پاکستان ته د دې خبرواترو د پلوي په سترګو نه، بلکې د دې هڅو د ويجاړونکي په سترګه کتل کيږي.
د قطر بهير کې د طالبانو استازي ملا ضعيف په خپله د پاکستان ونډه د خبرواترو برياليتوب لپاره ګواښ وباله.
البته دا په دې مانا نه ده چې څوک د افغانستان ربړه کې د پاکستان له ونډې نه منکر شول، خو د پاکستان مثبت رول کې د ټولو شک هماغسې پياوړی پاتې شو.
پاکستان له همدې سودا نه اوس د ځان د مطرح کولو هڅې له سره پيل کړې دي.
افغانستان ته د دې هيواد د باندنيو چارو د خبرلوڅې وزيرې د سفر نه وروسته، اوس د پاکستان لومړی وزير، د باندنيو چارو، او د تيلو د وزيرانو سره يو ځای قطر ته روان شوی دی. که څه هم د باندنيو چارو وزارت وياند د دې لوړپوړي پلاوي د سفر سوداګريزې موخې هم يادې کړي دي، خو دا لمر په دوه ګوتو نه پټيږي چې د پاکستان لومړی وزير د سولې د خبرواترو انديښنو قطر ته بيولی دی.
دا لومړی ځل دی چې د افغانستان په اړه دی په کيدونکو خبرواترو کې د پاکستان ونډه دومره نرۍ ده. پاکستان به اوس ټولې هڅې کوي چې خپله ونډه او ګټې د خبرواترو په دې بهير کې خوندي کړي، او ګرانه نه ده چې پاکستان د خليج عربان په داسې کولو کې د ځان ملګري کړي. دا ځکه چې پاکستاني مشرانو په تاريخي توګه تل د خليج عربان د ځان په ګټه غولولي دي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ستونزه دا ده چې ډیر لږ داسی شوي دي چې د پاکستان ونډه دی په افغانستان کی مثبته وي. کنه هیڅوک د افغانستان د ربړی په اوارولو کی د ګاونډیو له ونډی نه سترګی نه پټوي.
لنډه دا چې پاکستان به اوس هره بله هڅه کوي چې د افغانستان تر ناټو وروسته راتلونکی کی ځان ته ځای وګوري، خو اندیښنه دا ده چې د پاکستان دا هڅی به د افغانستان د راتلونکی لپاره په څه مانا وي؟ په تیر کی افغانان د پاکستان د داسی هڅو نه ډیر ښه نه دي لیدلي.

پای

2012/02/09


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ